آصف بهاند

۲۰۱۴/۰۱/۰۴

# یو شعر، یوه خاطره

په ۱۳۵۵ل کال مې دکانکور آزمویني له بریالتوب نه وروسته د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځي کې خپلې زده کړې پیل کړې. په دې وخت کې زموږ په هیواد افغانستان کې د تلویزیون او ټرن په باب څه ویل هسې د خیال خبرې، یا لکه د چا خبره یو خیال پلو و او بس.

موږ څو تنه هم صنفیان او هم دوره محصلین وو چې کله به د تفریح په وخت او کله به هم په کوم بل فارغ وخت کې سره کیناستو او لکه د چا خبره بنډار به مو کاوه. د همدې بنډارونو په لړ کې یوه ورځ خبره په ترقي او پرمختګ باندې یاده شوه. کوم یوه غږ وکړ چې دا دی سردار صاحب لګیا دی تلویزیون جوړوي. بل په کې وویل چې هلکه «غریب سړی، برګ یې سپی» موږ تلویزیون څه کوو، خلک د خوراک ډوډۍ نه لري، سردار صاحب تلویزیون ور ته جوړوي. په دې کې له کومې بلې خوا زموږ یوهم صنفي چې روح الله نومیده او د کنړونو اوسیدونکی و، ډیر ځیرک اوښه با مطالعې هلک و، غاړه تازه کړه او په جدي ډول یې داسې وویل:

«ګورئ اندیوالانو! پر ټولنه او ټولنیز ژوند او خلکو باندې خبرې کول د ټوکو خبرې نه دي. که لوړه ده، که هرڅه ده، سردار صاحب ډیر نیک اقدام کړی دی او...»

روح الله خپلې خبرې پسې اوږدې کړې. خبرې یې ډیرې علمي اوښې خبرې وې، خو د ټولو خبرو شیره یې په دې جمله کې سره راغونډه کړه:

« یو وطن چې تلویزیون او ټرن و نه لري، داسې به وي لکه یو انسان چې پښې او سترګې و نه لري.»

د سردار صاحب هڅې بریالۍ شوې او۱۳۵۷ ل کال په پسرلي کې افغانستان ته خدای یوه سترګه یعنې تلویزیون ورکړ. له هغه وخت نه اوس لړ او ډیر شپږ دیرش کاله تیردي، او خدای د هغو سترګو شمیر له پنځو سو هم اړولی دی، خو له بده مرغه چې موږ افغانان بل ځای څه چې خپله مخه او خپله لاره هم نه شو لیدلای.

په هرصورت د تلویزیون د خپرونو له پیل سره زموږ کور ته هم زموږ د کورنۍ کوم لالا یو پایه روسی کریم (krim) تلویزیون راوړ. دا تلویزیون ښه ډبل او داسې غټ و چې په لیدوېې سړي ویلای شول چې: «د بختور سړي به غټ تلویزیون وینه ». دا پدیده لالا تر یوه ځایه په ټکسي کې او وروسته په لاسي کراچۍ کې د کور انګړ ته راورساوه. کوټې ته مو په څلور تنو ننیست او «په بسم الله قدم را واخله» په ویلو سره مو په ډیر احتیاط د کوټې په یوه کنج کې ځای پرځای کړ.

دا نوې پدیده به اول په عذر چالانیده، یعنې دا چې زموږ د کلي برق دومره ضعیف و چې دې پدیدې ته یې انرژي نه شوه رسولای. دې کې د کورنۍ کوم غړي غږ وکړ چې: «زر په لالي پورې، دا شل یې د بنګړو» بیا د برق د تقویې وړوکی ماشین را پیدا شو، کله چې تلویزیون ته روزي پوره ور ورسیده، نو بیا به په غومبس لګیده. داسې وخت هم راغی چې ترڅو به چا په سوک و نه واهه، نه به لګیده.

زه هم لکه کریم روسی تلویزیون، د فیسبوک لوستلو ته، د ګڼو دلایلو له مخې ډیر زړه نه ښه کوم؛ خو آغه بله ورځ لکه روسی تلویزیون چا په سوک د مخکتاب لوستلو ته اړایستلم. کله مې چې مخکتاب پرانست، د همایون خان نومي سندر غاړي په غږ کې دوې خوږې سندرې، د هادي هادي او فاروق فردا یو یو شعر، د لطیف لالا دوو لنډو شعري ژباړو لږ څه سره مصرف کړم، خو بیا له یوې غوښتنې یا پوښتنې سره مخ شوم. ښاغلي نور محمد لاهو یا له تنګ زړه نه، یا په ټوکو او یا هم په رښتیا مینه ورکه کړې او د کرکې په ازغنه صحرا کې د مینې ګدایی کوي او مینه داسې ور نه ورکه ده چې اوس یې لا په پورغواړي: «یو څوک شته چې ماته مینه په پور را کړي؟»

د لاهو صاحب ځواب به د هر چا د نظر، تجربې او سترګو لیدلي حال له مخې فرق سره کوي. ما خپل ځواب د یوه شعر په قالب کې ورته لیکلی دی.

له عنوان سره سم پاس یوه خاطره او داهم شعر:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دلته د کرکي زړی شين شو
مينه والو تله لاړه مهاجره شوله
زه هم پښني ببلي تلي
له خپل ګودر، کلي او کوره ځيني
پسي راوتلی يمه
دا دی دا شل پسرلي
په شلو کلو پسي وګرځيدم
د ورکي ميني پته
خوشي له لرې چا راونه ښوده
هسي مي نښه هم ترسترګونه شوه
چي مي زهيرې او اوښلني سترګي
لږ څه راوچي شي ببيا
مينه او کلی مي د بل تر ولکي
زما پټکی غاړه کي پروت
اوله دردمني ملامي
يوه ريښکی را تاو ده
د شعرکچکول مي را ترغاړې ګرځم
د خپلو تورو سترګو خيرمي
له شين سترګو غواړم
بل څوک څه نه راکوي
تنها د خدا پر ښتي
د شعر په مات کچکول کي
د شعر څو وللي توري
کله را وغورځوي
خو زما سترګي لټوي آ مروره مينه
پښنو کي مي نور وس نه شته
چي په لټون پسي يي
کوم بل تکل وکړمه
دغه وروستی ټکی دی
د دنيا پای ته رسيدلی يمه
ښايي لږ وړاندې د خدای کلی وي بس
او ...
که دي په کاروي کرکه
نوکابل جان ته لاړشه!
افغانستان ته لاړشه!

۲۰۱٤/۰۱/۰۲
هيدرسليف
دنمارک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ